PROPERTY OF ACKU

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

اونیزه

شهادت

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

درس قرآن

ای محمده! ووایه: که تاسې له الله جل جلاله سره رښتینې مینه لرئ نو زما متابعت وکړئ الله جل جلاله به له تاسې سره مینه وکړي او ګناهونه به مو وبخښي. الله پاک بخښونکی او مهربان دی. ای محمده! ووایه: د الله او د رسول منــنـه وکړئ. که مخ یې واړاو نو الله پاک کافران نه خوښوي. (آل عمران: ۳۱ - ۳۲ آیتونه)

درس حدیث

از ابوهریره (رض) روایت است که رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمود: «همهٔ امتیان من وارد بهشت خواهند شد مگر کسی که امتناع ورزد». صحابه عرض کردند: ای رسول خدا! چه کسی امتناع می ورزد؟ فرمود: «هرکس که از من اطاعت کند، وارد بهشت می شود و هر کس، از من نافرماني کند، در حقیقت، امتناع ورزید ه است». (صحیح البخاری)

شهادت   دریم کال، ۴۲ مه ګڼه، پرله پسې ۱۴۲ مه ګڼه   چهارشنبه ۱۳۹۰ هـ ل د سلواغې ۲۵ مه   د۱۴۳۳ هـ ق د ربیع الاول ۲۲ مه   د۲۰۱۲ م د فبروری ۱۴ مه

ولسي جرګه ۱۶ وزیران استیضاح او استجوابوي

کابل، رسنۍ:
ولسي جرګې په یوه بې ساري اقدام کې د حکومت د کابینې دوه تنه وزیران استیضاح کوي او څوارلس نور وزیران او سرپرست وزیران یو د بل پسې استجواب کوي.

د دې جرګې غړي وایي، چې د کورنیو چارو وزیر جنرال بسم الله محمدي په کاپیسا ولایت کې د وروستي ملکي تلفاتو اوله اړتیا پرته د محلي پولیسو د رامنځ ته کولو او د مالیې وزیر ډاکټرعمر زاخیلوال د ۱۳۸۹ لمریز کال په بودجه کې د قانون خلاف د لاس وهنې له امله استیضاح کوي.

دغه راز دوی څرګندوي، چې د کابینې څوارلس تنو وزیرانو او سرپرستو وزیرانو په ۱۳۸۹ لمریز کال کې کمه پراختیایي بودجه لګولې او باید چې په دې اړه ځواب و وایي.

د ولسي جرګې لومړي منشي، عبدالستار خواصي د دوشنبې په ورځ د دې جرګې په عمومي غونډه کې وویل، چې د حوت یا کب د میاشتې ترشپږمې نیټې پورې به د دوی کاري اجنډاله استیضاح او استجواب کیدونکو وزیرانو او سرپرستو وزیرانو سره حساب کتاب وي:

پاتې ۴ مخ

کمیرون منتر:
مذاکرات میان حکومت افغانستان و طالبان درقطر ادامه دارد

شهر کراچی، پژواک: سفیر امریکا در پاکستان میګوید که مذاکرات میان حکومت افغانستان و طالبان مسلح در قطر ادامه دارد.

کمیرون منتر سفیر امریکا در پاکستان این اظهارات را شب ګذشته\ هنګام مصاحبه با یک تلویزیون به نام ایکسپرس نیز در شهر کراچی بیان نمود.

منتر علاوه نمود که اګر در مذاکرات میان حکومت افغانستان و طالبان کدام مؤفقیت به میان بیاید، این مؤفقیت حکومت افغانستان خواهد بود.

نامبرده میګوید : " مذاکرات در قطر میان افغانها جریان دارد، اګر پاکستان میخواهد با شبکه حقانی مذاکره نماید، پس در این پروسه با حکومت پاکستان نیز مذاکرات صورت ګرفته میتواند. "

ګفتنی است، که تا حال از مذاکرات امریکا و طالبان در قطر راپور داده شده است، اما این نخستین باراست که یک تن از مسؤولین امریکایی از اشتراک حکومت افغانستان در مذاکرات قطر سخن میګوید.

اما حکومت افغانستان تا حال در این مورد چیزی نګفته است.

کمیرون منتر سفیر امریکا در پاکستان مذاکرات هفته ګذشته میان مسؤولین نظامی

بقیه در صفحه ۴

طالبانو د ملا عبیدالله مړینه تایید کړه

پژواک:
وسلوالو طالبانو د خپلې واکمنۍ پر مهال د دفاع د وزیر ملا عبیدالله اخوند، په یوه پاکستاني زندان کې د مړینې د خبر پخلی وکړ.

څو ورځې مخکې خینو رسنیو راپور ورکړی و، چې ملا عبیدالله اخوند د پاکستان په یوه زندان کې مړ شوی، خو طالبانو په رسمي توګه دا خبر نه و تایید کړی.

د وسلوالو طالبانو په ویبپاڼه کې پرون (د سلواغې ۲۴مه) د ملا عبیدالله اخوند مړینه د یوې اعلامیې په خپرولو سره تایید شوې ده.

په خبرپاڼه کې راغلي: "په ډېره خواشینی سره مو خبر ترلاسه کړ، چې د طالبانو د ملي دفاع وزیر او د طالبانو د تحریک اوسنی

پاتې ۴ مخ

سه و نیم ملیارد افغانی از ګمرک حیرتان مفقود شده است

کابل، رسانه ها:
رییس اداره، عالی مبارزه علیه فساد اداری افغانستان از مفقود شدن سه و نیم میلیارد افغانی از ګمرک حیرتان خبر داده است.

داکتر عزیزالله لودین در کمسیون عدلی و قضای ولسی جرګه ګفت که تحقیقات در این زمینه جریان دارد.

رییس اداره ی عالی مبارزه علیه فساد اداری می ګوید، این مقدار پول در دو سال اخیر از ګمرک حیرتان مفقود ګردیده است.

داکتر عزیز الله لودین رییس اداره مبارزه علیه فساد اداری به روز یکشنبه در کمسیون عدلی و قضایی ولسی جرګه این موضوع را روشن نساخت که ګزارش مفقود شدن سه و نیم ملیارد افغانی از ګمرک حیرتان را از کدام مرجع بدست آورده است اما ګفت تحقیقات در این زمینه جریان دارد:

"در قسمت ګمرک حیرتان راپوریکه برای ما رسیده سه ملیارد و پنجصد ملیون افغانی مفقود ګردیده است که این ګزارش باید تحقیق و بررسی شود تا حقایق معلوم ګردد. راپور برای ما آمده و در آن ګفته شده که سه ملیارد و پنجصد ملیون افغانی در سال ۱۳۸۹

بقیه در صفحه ۴

ایساف د ملکیانو د مړګ ژوبلې د مخنیوي لپاره یو کنفرانس رابولي

ISAF
کمک او همکاري

کابل، رسنۍ:
په کابل کې د ایساف ځواکونه وایي، چې په دې کنفرانس کې به په افغانستان کې د بهرنیو ځواکونو په عملیاتو کې د عامه خلکو د مرګ ژوبلې د مخنیوي په لارو چارو خبرې وشي.

ټاکل شوې دا غونډه په راتلونکې مارچ میلادي میاشت کې په کابل کې د ایساف ځواکونو په مرکزي قومندانۍ کې جوړه شي، چې پکې د ایساف مشرانو سربیره د ملګرو ملتونو استازي او افغان چارواکي هم برخه ولري.

ددغو ځواکونو ویاند جنرال کرستهن جکوبسن، چې د دوشنبې په ورځ یې په کابل کې یوې خبري غونډې ته وینا کوله

پاتې ۴ مخ

مساعی دولت برای داشتن حق کنترول بر زندان بګرام

اعزامی

صفحه دوم

نورو ته آزادي ښووونکی ولس، ولې د جګړې په اور کې وریتېږي؟!

عبیدالله صافی

دریم مخ

مردم ولایات کنر و کاپیسا از رئیس جمهور خواستار توقف عملیات نیروهای ناتو ګردیدند

کابل، رسانه ها:
بر اساس ګزارش دفتر مطبوعاتی ریاست جمهوری، هیات های اعزامی به ولایات کنر و کاپیسا که به منظور بررسی تلفات ملکی در بمباردمان نیرو های ناتو به آن ولایات فرستاده شده بودند، ګزارشات شانرا روز ګذشته در جلسه شورای امنیت ملی به رئیس جمهوری اسلامی افغانستان، ارایه کردند.

مولوی شهزاده شاهد رئیس هیات اعزامی به ولایت کنر طی صحبتی ضمن تایید تلفات ملکی در بمباردمان نیروهای ناتو به قول صد تن از نماینده ګان مردم محل که با هیات دیدار داشتند، ګفت که در اثر بمباردمان

بقیه در صفحه ۴

راځئ د خپلو تاریخي ویاړونو ساتنه وکړو

محمد خلیل

د سلواغې ۲۶ مه د افغانستان د تاریخ هغه له ویاړه ډکه ورځ ده چې په دې ورځ روسي یرغلګر پوځ له رسوا ماتې وروسته له افغانستانه خپلې پښې سپکې کړې، په افغانستان کې د روسي یرغلګر پوځ ددغې ماتې ویاړ د افغانستان د قهرمان ولس په برخه دی، همدا افغانان وو چې د افغانستان لویشت لویشت خاوره په روسي پوځیانو سور اور و ګرځاوه، دهغوی د ټانکونو توپونو او نورو خطرناکو وسلو په وړاندې خپلې سینې ډال او د اوسپنې نینې چیچولو ته یې اړ کړل. دا د افغانستان د مجاهد ولس د قربانیو، شهادتونو او شهامتونو برکت و چې روسي بې رحمو پوځونو ملا ماته او حوصلې یې مومې کړې.

په انساني تاریخ کې بل هېڅوک داسې نه دې لیدل شوې چې د افغانانو په څېر په پرله پسې ډول د قربانیو، شهادتونو، قهرمانیو او بریالیتوبونو بابونه قائم کړې وي او د نړۍ هر یرغلګر یې ځپلې او رسوا ماتې سره مخامخ کړې وي. دا افتخار یواځې افغان ولس ته حاصل دی چې د نړۍ له هر فرعوني ځواک سره په جګړه کې تل لپاره بری ترلاسه کړې او د مقابل لورې پوزې یې له خاورو سره سولولې دي.

د افغانانو د شهامت، استقامت، مردانګي او حوصلې ته ټوله دنیا ګوته پر غاښ او حیران دي خو له دې واقعیت نه هم باید سترګې پټې نشي چې د یو پرمختللې او خوشال ژوند تېرولو لپاره د نورو ډېرو مهمو اوصافو درلودل هم خورا اړین دي،...

(پاتې دویم مخ)

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

۲۶ دلو تکراری در افتخارات تاریخی ما

سرزمین ما از موقعیت حساسی که حائز آنست همواره فرزندان خود را در ابتلای بزرگ دفاع از حیات، آبرو و بقا در برابر جهانکشایان قرار داده است باور داریم اگر از اسکندر مقدونی در لحظاتی که این سرزمین را ترک می گفت پرسیده می شد. افغانستان را چگونه یافتی شاید همان حسرتی را به زبان می آورد که جنرال گروموف آخرین افسر روس هنگام پشت سر گذاشتن پل حیرتان پلی که نام آن به خطا دوستی گذاشته شده بود زمزمه می کرد آه و حسرت چنگیز خان فاتح بدنام تاریخ از اینجا می توان درک کرد که عصبانیت مقابله این مردم او را به جنونی رسانید که شهرهای آباد بلخ، بامیان، هرات و غزنه را از زنده جان خالی کرد.

بجا گفت نخست وزیر انگلیس که تجاوز به این سرزمین را محصول سیاست خطا آلود سلفش گلیدستون عنوان کرد.

گرچه اخلافش بار دیگر بهمان راه خطا قدم گذاشتند، نمی دانم چه عنوانش دهم آنهائیکه پس از بارها شکست انگلیس هوس تجاوز را برین کشور بسر بپرورانند به بی خبری از تاریخ حمل نمایم یا به جهالت و لجاجت.

اگر برژنیف عوامل توقف تزارهای روس را در کنار دریای آمو هم مطالعه می کرد از این سد آهنین هوس گذشتن را نمی کرد که خود را به بحیره عرب برساند. در انصورت ترجیح می داد بجای به کشتن دادن پانزده هزار فرزندان قلمرو شوروی تحت اداره اش و ملیاردها دالر ثروت و بالآخره در این قمار، باختن سایر مستعمرات آماده می شد جزیه پرداز افغانها گردد ولی کشورش را از این آفت مصؤن نگهدارد.

اسفا که بیچارگی ظاهری مردمان این سرزمین، کبریای جباران را فریب می دهد و همیشه گمان می کنند که شاید این کشور مدافعی نداشته باشد اما هر باری جرأت تجاوز را بخود بدهند می یابند که نه تنها همت والای شیرمردان آن که هر سنگ و صخره و شجر آن در مقام دفاع می ایستد. ولی سنگی بر پیشانی متجاوز می خورد تا وادار به مطالعه دقیق تاریخ گردد. آنهائی که پس از افتادن در ورطه ای در پی جستجوی عوامل آن برایند آنها را چه می توان نامید؟

سرزمین ما نه تنها افتخار بیست و ششم دلو را دارد که هرگاه صفحات تاریخ ورق زده شود این بارها تکرار شده است که کشور قهرمان پرور ما در دفاع از وطن پرافتخار شان، آزادی، حیثیت، وقار و ناموس و معتقدات خود، متجاوزین را با جواب دندان شکن رانده اند.

آنچه را که در این مقطع می خواهیم بیاد فرزندان دردمند و آگاه کشور ما بیاوریم اینست که هر باری دشمن تجاوزگر به همت مردان این سرزمین رانده شده از نیاکان تا امروز با ایجاد بی اتفاقی ها و عدم تفاهم بر یک نظام سیاسی دلخواه موفقیتی نداشته ایم.

آنچه قهرمانی های ما را زیر سوال برده است و دوباره چشم طمع دشمنان را از این مرزو بوم قطع نکرده است گرم شدن بازار اختلافات داخلی در میان مجاهدان و مبارزان بوده است که تا کنون ادامه دارد.

بر ماست که برای حفظ قهرمانی ملیونها شهید و معیوب و مجاهد سربکف و ارج گذاشتن به همه افتخارات تاریخی، حاضر و ماضی ما، نه از حد بیش بخواهیم و نه از وقت پیش بخواهیم. بجای آنکه با امتیازخواهی از حق طبیعی خود و هموطنان خود را محروم سازیم و سرزمین ما را مطمع اشغالگران و استعمارگران جدید سازیم. از خودگذری پیشه کنیم و با ایثار و فداکاری در برابر برادر همسنگر خود حافظ افتخارات تاریخی ما گردیم.

مساعی دولت برای داشتن حق کنترول بر زندان بگرام

اعزامی

بدون شک ادارهٔ زندان ها و کنترول و تفتیش آن ها جزء حق حاکمیت ملی هر کشور به شمار می رود و دولت های مستقل و آزاده حق دارند که در کنار تمثیل حاکمیت ملی در سایر ابعاد حیات اجتماعی اتباع خود، از وضعیت زندان ها و زندانیان نیز وارسی و رسیدگی نمایند. جنگ و بحران طولانی طی سه و نیم دهه در کشور ما باعث گردید که تمامی نهادها، مؤسسات و ارگان های دولت، رو به تحلیل و ضعف بروند که از آن جمله، اداره، نظم و انسجام زندان های افغانستان نیز متلاشی گردید. شاید یکی از دلایل علاقمندی برای کنترول و ادارهٔ زندان بگرام توسط نیروهای خارجی و یا هم تأسیس زندان های جدید غرض بازداشت مجرمین و مخالفین در قندهار، گوانتانامو و جاهای دیگر پس از سقوط ادارهٔ طالبان این باشد که اداره و کنترول بر زندان ها ایجاب دولت قوی و مدیران کار آموزده، بودجه کافی و بالاخره پرسونل امنیتی ماهرو مجرب را میکند که در اوایل وهله چنان ظرفیت ها و شرایط در ارگان های عدلی و امنیتی افغانستان کمتر سراغ می شد، ولی با مرور زمان ده سال از تأسیس دولت موقت تا اکنون تغیرات و تحولاتی بنیادی و عمیقی در تمام ابعاد و سکتورها به میان آمده و در همین ضمن ارگان های عدلی و امنیتی افغانستان نیز با کسب تجارب و تقویت استعدادها و ظرفیت ها این توانایی را حاصل نموده اند که دیگر زندان های افغانستان توسط خود افغان ها اداره شود و در خارج از افغانستان نیز، زندانی برای بازداشت افغان ها وجود نداشته باشد.

اداره و کنترول دولت افغانستان بر زندان ها و برگرداندن زندانی های افغان از زندان های خارج مرز به افغانستان مناقشه دوامدار و جدی ای است که طی چند سال اخیر میان دولتمردان افغانستان و خارجی ها جریان دارد، چنانچه جناب حامد کرزی به کرات این خواست ملت افغان را در جریان ملاقات های رسمی و محافل به خارجی ها گوشزد نموده که احترام به حاکمیت ملی افغانستان ایجاب می کنند که اداره و کنترول زندان بگرام و قندهار به دولت افغانستان سپرده شود و تمامی زندانیان افغان از گوانتانامو به افغانستان برگردانده شوند و خارجی ها در جهت برآورده شدن این خواست دولت افغانستان، موافقه نشان داده و وعده تعمیل آن را نیز دادند، مگر تاخیر در تعمیل این وعده ها موجب گردید که اخیراً دفتر ریاست جمهوری با صدور اعلامیهٔ از سلوک نامناسب خارجی ها در برابر زندانیان افغان اظهار نگرانی نموده و از آنها تقاضا کند که در ظرف یکماه اداره و کنترول زندان بگرام را به دولت افغانستان بسپارد و برای به کرسی نشاندن این امر، کمیسیونی تحت ریاست رئیس نظارت بر تطبیق قانون اساسی توظیف گردید تا زندان بگرام را از نزدیک بازدید نموده و با ارائه گزارش از وضعیت زندانیان، طرح کنترول دولت افغانستان بر زندان بگرام را به حکومت ارائه بدهد.

همزمان با اعلان این اعلامیه وزارت خارجه افغانستان نگهداری زندانیان افغان در زندان گوانتانامو را خلاف نورم های قبول شده بین المللی دانسته و از جامعه جهانی تقاضا کرده است که تمامی زندانیان افغان به حکومت افغانستان تسلیم داده شوند.

گفته میشود که یکی از دلایل تاخیر در امضای پیمان ستراتیژیک میان ایالات متحدهٔ امریکا و افغانستان همین موضوع سپردن کنترول زندان بگرام به حکومت افغانستان و احاله تمامی زندانیان افغان از زندان های خارجی به دولت افغانستان می باشد، مقامات وزارت خارجه، موقف حکومت را در این زمینه با صراحت بیان داشته و ادامه این وضعیت را خلاف تعامل بین المللی دانسته و آنرا خدشه به حاکمیت ملی وانمود کردند.

نگرانی جدی دولت افغانستان از نداشتن کنترول بر زندان بگرام و عدم استرداد افغان های زندانی در زندان های خارجی به افغانستان، موجب تعجب خارجی ها شده و در برابر این خواست، با نرمش برخورد نمودند، خصوصاً که درک کردند، ادامه وضعیت قبلی برای افغان ها قابل تحمل نیست و ادامهٔ آن را مخالف حاکمیت ملی خود می دانند، زیرا افغان ها پس از ده سال اکنون به بسیاری از چالش ها و کمبودی ها چیره شده اند و اکنون ظرفیت و توانایی این را دارند که زندان ها و زندانیان خود را تحت کنترول خود بگیرند، قانون خود را در این مورد پیاده نمایند و عدالت را تأمین کنند.

موضوع انتقال صلاحیت کنترول بر زندان بگرام و برگرداندن افغان های زندانی از خارج زمانی از جانب دولت افغانستان با جدیت تعقیب می شود که کار پروسهٔ انتقال مسؤولیت های امنیتی از نیروهای خارجی به نیروهای داخلی وارد مرحله دوم خود گردیده و در این مرحله مسؤولیت امنیتی خیلی از ولایات به اردو و پولیس ملی سپرده می شود، طبیعی است که کنترول زندان ها نیز جزء مسؤولیت های امنیتی به شمار می رود و اداره آن بایست به خود افغان ها منتقل شود.

دلیل دیگر علاقمندی دولت افغانستان در مورد زندان بگرام و افغان های زندانی در خارج اینست که اخیراً پس از گشایش دفتر تماس طالبان در دوحه (مرکز قطر) شایعاتی از طریق رسانه ها پخش شد که گویا یکتعداد زندانیان طالب در نتیجه گفتگوهای پنهانی ایالات متحده امریکا و طالبان از زندان گوانتانامو رها شده و با خانواده های شان در قطر جابجا می شوند، در حالیکه در هر دو صورت هم بدرفتاری خارجی ها در برابر زندانیان و هم رهایی طالبان زندانی از زندان گوانتانامو بدون اجازه و مسؤولیت دولت افغانستان، در حقیقت نادیده گرفتن حاکمیت ملی کشور و روا داشتن تحقیر و توهین نسبت به ارگان های مسؤول افغانستان می باشد. ارگان های امنیتی افغانستان همانطوریکه برای انتقال مسؤولیت های امنیتی اظهار آمادگی کرده و از چند ماه به اینسو سلسلهٔ انتقال مسؤولیت ها جریان دارد، برای اداره و کنترول زندان ها بالاخص زندان بگرام نیز آمادگی کامل نشان داده اند و دولت نیز برای انتظام و انسجام درست زندان ها، اداره محابس را از وزارت عدلیه به وزارت داخله انتقال داد. زیرا وزارت داخله با داشتن پرسونل امنیتی و داشتن تجارب کافی، نسبت به وزارت عدلیه از عهدهٔ این مسؤولیت خوبتر به درآمده می تواند. تعیین مهلت یک ماهه برای انتقال مسؤولیت زندان بگرام از خارجی ها به نیروهای داخلی و تقاضای انحلال زندان گوانتانامو و تحویلدهی زندانیان افغان آنجا به دولت افغانستان، نشانهٔ از تأکید برداشتن اقتدار سیاسی وحاکمیت دولت افغانستان برامور است، امیدواریم که با تحقق این دو درخواست، استقلال وحاکمیت ملی کشورما خوبتر تمثیل شود و منبعد دست نیاز افغانها به خارجی ها کوتاه شده و دولت افغانستان درهمه ابعاد حیاتی در مسیر ترقی و خودکفایی گامزن شود.

راځئ د خپلو تاريخي وياړونو ساتنه وکړو

(د لومړي مخ پاتې برخه)

...يواځې د جنګ په ډګر کې د شهامت او بهادري له لارې نه شي کېدلې چې خپل ژوند په ارامه فضا کې تېره کړو، نني عصر ددې خبرې متقاضي دی چې د ژوند په هره څانګه کې د نورو ولسونو په څېر هر اړخيز پرمختګ وکړو، د ساينس او ټکنالوژۍ په ډګر کې مهارت ترلاسه کړو، د نوري نړۍ له ولسونو سره د ژوند په هر ډګر کې اوږه په اوږه لاړ شو، د نوي زماني د وسايلو پر استعمال خان پوه کړو.

په اس خر او قچر باندې سفر کوونکي له موټر، ريل ګاډي او الوتکو کې له سفر کوونکو سره بو برابر لاره نه شي وهلي.

د حکيمانو معجونو نه اوکېږي د ايلوپيتک دوايانو مقابله نشي کولي ننی عصر د ايکسرو، الټراساونډونو، مجهزو ليباټوريو، واکسينونو د ايم آر اى سټي سکن په څير د پرمختللو ماشينونو دور دی د جعلي پيرانو په جعلي او بې معنا دم او چوف او تعويذونو کار نه کېږي، په پوځي ډګر کې د بې پيلوټو الوتکو، کمپيوټري توغنديو، ذروي وسلو، مخابراتو اوبتلونو او ... وسلو ته ضرورت دی. تر څو به مونږ په خالي لاس او خالي ګېډه د اوسپنې او باروت مقابله کوو؟ که زمونږ همدا حال وي او د نوې زمانې د نوي ټيکنالوژۍ له نعمت څخه محروم ژوند تېروو نو لېرې نه ده چې يوه ورځ د اوسپنې او باروت په مقابل کې زمونږ حوصلې ماتې شي او د جاپان په څېر سلامي شو، الله پاک پر افغانانو ډېر لوی احسان کړی دی چې تر اوسه يې د نورو له غلامي نه ساتلي دي، نه بنايي افغانان دا موقع او فرصت له لاسه ورکړي او د پخوا په څېر د غفلت په خوب کې ويده پاتې شي.

د اسلام سپېڅلي دين خپلو پيروانو ته دا لارښوونه کړې چې د الله تعالى له کائيناتو څخه بشپړه ګټه اوچته کړي او د ژوند په هر ډګر کې پرمختګ وکړي، لوی الله پخپل پاک کلام قرآن کريم کې مسلمانانو ته په څرګندو ټکو کې فرمايلي دي چې ما تاسو ته اوسپنه نازله کړې ده په دې کې د جنګ سامان او خلکو ته نورې ډېرې ګټې دي. ډېر افسوس چې مونږ تر اوسه پورې له اوسپنې نه مناسبه ګټه نه ده پورته کړې، کومو قومونو چې د اوسپنې قدر او قيمت پيژندلې هغوی په ټوله نړۍ حکمراني کوي.

دې لپاره چې د ذلت او محتاجي له ژوند نه بچ شو او د نورو قومونو په څېر سرلوړی ژوند تېر کړو ددې خبرې کلک ضرورت دی چې د خپل خان، خاورې او عقيدې د مؤثر دفاع لپاره د ساينس او ټکنالوژۍ په ډګر کې هم پرمختګ وکړو، خپل اقتصاد پياوړی او خپل ژوند د نوي عصر د نوي ضروریاتو په قالب کې واچوو، خو دا ټول کارونه هله ممکن کېدلې شي چې د هر څه دمخه خپل قومي وحدت او ملي يووالي تأمين کړو، د اتفاق او ورورولۍ په ټغر کېنو، ښه حکومت او ښه اداره جوړه کړو، خپل تعليم، صحت، زراعت، اقتصاد او صنعت پياوړي کړو.

که داسې ونه کړو او د پخوا په څېر د نابوهۍ او بې اتفاقۍ په تيارو کې خپل ژوند ته دوام ورکړو نو ممکن خپل دغه تاريخي وياړ تل لپاره له لاسه ورکړو. الله دې نه کړي.

نورو ته آزادي ښوونکی ولس، ولې د جګړې په اور کې ورېتيږي؟!

عبيدالله صافي

د سلواغې شپږ ويشتمه د لرغوني افغانستان هغه تاريخي او نه هېرېدونکي ورځ ده چې دهغه وخت د نړۍ تر ټولو لوی پوځي ځواک د افغانستان د قهرمان مجاهد ولس دلاسه له پرله پسې ماتې وروسته دېته اړ شو چې خپل پوځونه د افغانستان له خاورې وباسي.

روسيه لدېنه وړاندې د يو شکست نه منونکی هېواد په نامه يادېدله، هغې پخپل تاريخ کې چېرته هم ماته نه وه خوړلې، په هر هېواد به چې خپل پوځونه مرش کړل سوبه او برى به دهغوى پښې ښکلولې، دهېچا په خوب او خيال کې دا نه تېرېده چې د سرې امپراتورۍ د وحشي ځواکونو په وړاندې دې څوک مقاومت وکړی شي، هغه ځوارلس خپلواک هېوادونه په داسې برق رفتاری سره نيولې وو چې هېچا ته د وسلې د اوچتولو فرصت قدرې هم نه و ورکړې، نژدې نيمه نړۍ يې تر خپل کنترول لاندې راوستې وه، اروپا خو څه چې ان د امريکا پولو ته يې ځان رسولې وه په پولينډ، کيوبا او نيکاراګوا کې خپل توغوندي او نور پوځي وسايل يې ځای پر ځای کړي وو، امريکا تقريباً د روسيې په محاصره کې راغلې وه، د نړۍ په زياترو هېوادو کې د کمونيزم د پوچې عقيدې پيروانو غلبه وه، هر لورې دا ويره خپره وه چې ډېر لږ وخت کې به د کمونيزم سور سېلاب امريکا هم لاندې کړي، خو ددغه خونړی سېلاب په وړاندې فولادي ديوال هله ودرول شو چې د روسيې سور لښکر پر افغانستان يرغل وکړ تر څو له دې لارې د هندوستان ګرمو اوبو ته هم ځان ورسوي او خپل پوځي حضور پياوړی کړي.

افغانان چې پخپل تاريخ کې کله هم دچا غلام نه وو پاتې شوي او هر يرغل استعماري ځواک ته يې غاښ ماتوونکی ځواب ورکړې و، د خپل فطرت له مخې د روسي يرغلګرو ځواکونو په خلاف هم د جهاد او مقاومت لاره غوره کړه، د افغانستان په ګوټ ګوټ کې يې د استقلال او پاڅون بيرغونه اوچت، او پر يرغلګرو وحشي ځواکونه يې مرګوني بربېدونه وکړل، د قهرمانو مجاهدينو بربېدونه او ګوزارونه به دومره ناڅاپي او چټکي وې چې روسي لښکرې به ځان سنبالولو ته هم نه وزګارېدلې، بالکل داسې لکه چې بازان د سترګو په رپ کې په مرغانو غوټې وهي او پخپلو پنجو کې اوچتوي.

کله چې نړۍ د افغانستان د مجاهد او قهرمان ولس دغه شجاعت او بهادري ولېد نو په رګونو کې يې وينې وغورېدلې، دهغو ولسونو چې د روسانو له ويرې پښې رېږدېدلې ملاوې نيغې او پښې يې ټينګې شولې او د روسانو په ضد د څه کولو او ويلو جرئت يې پيدا کړ.

که چېرته له واقعيت نه سترګې پټې نه شي نو دا ادعا بالکل پرځای ده چې د افغانستان قهرمان ولس د نړۍ او په ځانګړې ډول دهغو هېوادونو محسن او نجات ښوونکي دی چې د روسي ښکلاک په منګولو کې د غلامي ژوند تېراو، دا د افغان مجاهد ولس د ميليونونو شهيدانو د قربانيو برکت و چې د کمونيزم د سور سېلاب په وړاندې اوسپنيز ديوال يې ودراو، د افغانستان لويشت لويشت زمکه يې ورته سور اور کړ، په هر ځای او په هره کوڅه کې يې مړي ورته وغورځول، هغه ټانکونه يې چې په ګرده نړۍ کې ويره خپره وه او په يوه شپه کې به يې پوره پوره هېوادونه فتح کول د افغانستان د قهرمان ولس د کلک مقاومت او حوصلې په وړاندې د شګو ديوالونه ثابت شول. لنډه دا چې د نهو کلو له جګړو وروسته بالاخر روسي يرغلګرو ځواکونو خپله حوصله او جنګي قابليت د قهرمانو مجاهدينو په وړاندې بالکل له لاسه ورکړ او په ټيټو سترګو له افغانستانه پر وتلو اړ شول. نو پدې توګه افغانستان هم د روسي ښکېلاک له غلامی نه آزاد شو او ورسره ځوارلس نور مقبوضه هېوادونه هم د افغانستان د قهرمان ولس د قربانيو په نتيجه کې د خپلواکي خاوندان شول، هغه امريکا چې د روسي پوځي ځواک له ويرې خوب نه شو کولای د نړۍ يواځنې لوی ځواک شو، خو ډېر افسوس افغانانو د خپلو بې درېغو قربانيو څخه هغه ګټه اوچته نکړه چې اوچتول يې پکار و. ددې پر ځای چې مشرانو خپل اسلامي او ملي مسؤوليت ترسره کړی وای او خپل قهرمان ولس ته ښه حکومت او ښه نظام وړاندې کړی وای پخپلو کې لاس او ګريوان شول، د شهيدانو پاکې وينې تر پښو لاندې کړې او د يو سوچه اسلامي حکومت د قيام په خاطر د مالي او ځاني قربانيو وړاندې کوونکي ولس ارمانونه يې خاورې ايرې کړې، په ډېر مهارت او مکاري يې له يو بل سره وجنګول، د ژبې رنګ او قوم په نوم يې سره جلا، او هر چا خپل دربارونه ښکلي کړل. له هغې ورځې نه تر نن پورې همدا حالت روان دی او د مظلوم ولس په سر زبردست تجارت کېږي څوک له يوه بادار نه اخلي او څوک له بل بادار نه، هرې ډلې ټپلې د مال د لوټلو او غصبولو دفترونه جوړ کړي دي، نو څکه د سلواغې شپږ ويشتمه نېټه که له يوې لورې د افغانانو د تاريخ له وياړه ډکه ورځ ده نو بل لورې افغانان په دې خبره هم زيات ځورېږي چې جهادي مشرانو ولې د لکونو شهيدانو له وينې او د افغان مجاهدپال ولس له ارمانونو سره دومره غټه جفا وکړه؟ د افغانانو د وينې په برکت آزاد شويو هېوادونه خو د استقلال له نعمت نه ګټه پورته کړه او د مشرقي او مغربي جرمني، شمال او جنوبي يمن په څېر ويشل شوي هېوادونه پخپلو کې يو موټې شول، مګر يو موټي افغانان په ګڼو ډلو ټپلو وويشل شول، ددې پر ځای چې د يو پر امن او خپلواک هېواد خاوندان شوي وای په پرله پسې ډول په ناامنۍ او د پرديو پوځونو د بوټانو او بمونو په دوړو او لوخړو کې ژوند تېروي.

د سلواغې د شپږ ويشتمې خوشالي او جشن حقيقي ثمره به هله متحقق شي چې مشران خپل مجاهد ولس ته د يووالي او اتفاق خوږ پيغام ډالۍ کړي ټول افغانان که هغوی په جنوب کې اوسېږي او که شمال کې، شرق کې اوسېږي او که غرب کې، پښتون دي او که تاجک، ازبک دي او که هزاره، ترکمن دي که پشايي او نورستاني ټول يو بل ته د ورورۍ او يووالي لاسونه ورکړي او ټول په ګډه د خپل هېواد د ترقي، استحکام او پياوړتيا لپاره کار وکړي.

اداري فساد

استاد حبيب الرحمن "صالحی"

ځنې خلک تل په حرامو کې لګيا وي او هغه ظاهري کاميابی او بريالیتوبونه په مردارو کې دوی خوشحاله ساتي، حتی کله چې کوم د حلالو کار وکړي، نو وايي: ما خو نن يو نيک کار وکړ او هغه راپسې سم ولاړ نه شو او ماته يې نقصان راورساوه.

د ګندګی له ډيران څخه د عطرو يوه قطره هم بهتره ده، نو له دې کبله يو مؤمن او عاقل انسان د حلالو لس افغاني د حرامو له زرګون څخه غوره ګڼي.

له حضرت ابوبکر رضی الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: کوم بدن چې په حرامو روزل شوي وي هغه به جنت ته نه داخلېږي. (رواه البيهقي فی شعب الايمان)

الله پاک په قرآن کريم کې فرمايي:

((بې له شکه هغه کسان چې د خدای تعالی جل جلاله نازل شوي حق احکام پټوي او په عوض کې يې پيسې رشوت اخلي، هغه ناچيزه متاع، نو دغه حق پټونکي، مخ نوری، رشوت خواره، خپلو ګېډو ته د اور څخه پرته بل څه نه اچوي او له دوی سره به الله تعالی جل جلاله د قيامت په ورځ خبرې نه کوي او نه به دوی پاک کړي، او دوی لره دردونکی عذاب دی.)) (البقره : ۱۷۴)

په بل آيت کې بيا راځي:

((او تاسې خپل مالونه په خپلو مينځو کې په نارواء مه خورئ او مه يې واکدارانو ته وروړئ تر څو پرې د خلکو د مالونو يوه برخه په نارواء سره وخورئ او تاسې پوهېږئ چې دا مال پردی او نارواء دی)) (البقره: ۱۸۸)

مطلب دا شو چې په ټول عمر کې په ناروا او نامشروعه طريقو لکه: رشوت، غصب، قمار، احتکار، دچل بيعه، سود، زورزياتي، غلا او فريب سره د پيسو او مال په لاس راوړل حرام او ظلم دي چې په دې ناروااوو لارو سره پيسې په لاس راشي نو هغه ناپاکی، مردارې او حرامې دي.

اوس په دې ټولنه کې فساد په فرهنګ بدل شوې دي، پخوا به که څوک په فساد تورن وو، نو خجالت به وو، او د شرم احساس به يې کاوه او خلکو به هم ورته په ښه سترګه نه کتل، ليکن اوس موضوع معکوسه ده.

د تاريخ په اوږدو کې د دنيا په سر ډول ډول فسادونه سر ته رسيدلي دي او په مختلفو دورو کې د مختلفو حکومتونو، چارواکو، بادشاهانو او وګړو له خوا ترسره شوي دي چې په نتيجه کې بد امني، غربت، غريبي او غير عادي حالتونو دمنځ ته راوړو سبب ګرځيدلي، چې د وګړو ژوند يې ويجاړ کړي او همدارنګه حکومتونو خپل اعتماد د ملک دننه او دباندې له لاسه ورکړي دي.

د انسانانو قاچاق، اختطاف، د نشه يي توکو تجارت، د تاريخي آثارو قاچاق، له بيت المال څخه ناوړه استفاده، رشوت، اختلاس او داسې نور ټول هغه شيان دي چې په ټولنه کې فساد ګرځيدلي دي.

په غريبو ملکونو کې د اداري فساد عوامل: لکه څنګه چې له نوم څخه يې ظاهره ده، غريبي ډېر بد او زړه خوږوونکي او د الله تعالی جل جلاله له خوا يوه امتحاني مرحله ده، وجوهات يې جهل او د دنيا له حقيقتونو څخه بې خبری او يا سترګې پټول دي، چې د خلکو د خپلو عملونو له لاسه پيدا کېږي.

د خلکو، مشرانو او د واکدارانو بې علمي ددې سبب ګرځي چې د ښو او بدو درک ورک شي، معاشرت د تنزل او ويرې ښکار کېږي، ناپوهي د ښې او بدې فيصلې توان او عقل له منځه وړي، ددين او اسلامي شريعت څخه بې خبري او وربانديې سترګې پټول د زوال او افتونو سبب ګرځي او په نتيجه کې غريبي، ناامني، شر، فساد او لاقانونيت منځته راځي.

زمونږ په ټولنه کې د رشوت خوری، اختلاس او خيانت علامې دهغو د عاملينو په څېرو کې هر څوک په ښکاره توګه ليدلای شي، چې په حرامو او غير مشروع ارتزاق عادت شوي دي او ډېر مالونه يې په ډېر کم وخت کې پيدا او راټول کړي دي.

اداري فساد پنځه عمده عوامل لري، چې په لاندې ډول دي:

۱- جګړه او ناامني

۲- بې روزګاري او د تنخاګانو کموالی

۳- د غټو او وړو چارواکو خپل سري او دقدرت او قانون څخه سرغړونه

۴- د مسؤولو چارواکو سره د فساد د پلان او کنترول نشت والی

۵- د مکافاتو او مجازاتو نشت والی

کله چې د تقاضا په تناسب ضروريات نه پوره کېږي نو بيا خلک غير عادي، غير نورمال (**Abnormal**) حالت ته راګرځي، چې په نتيجه کې کارونه منفي اړخ اختياروي او رشوت او فساد ته يې مخه کېږي په همدې ترتيب بې روزګاري هم فساد ته مخه او لاره اواروي.

کله چې اسلام او د خپل وطن قانون پوره په ځان تطبيق نه کړو، سترګې پرې پټې کړو، نو فساد ته زمينه برابره کېږي او د وطن جوړ شوي قانون تر پښو لاندې کېږي، خپل نفسي او شيطاني خواهشات راباندې غالب او ګناه او فساد ته زمينه او لاره برابروي.

کله چې حکومتي اداري ډېرې ضعيفې او کنترول يې کمزوری او د خلکو، ټولنې، نړيوالو معيارونو او د وخت ضرورتونو سره جوړې او برابرې نه وي او ددې ترڅنګ نااهله کسان په غټو چوکيو ګمارل شوي وي، نو اداري فساد او د حکومت نااهلي منځ ته راځي.

دا ټول د حکومت او خلکو ذمه داري ده چې په ګډه او کلکې ارادې د وطن داخلي او خارجي پاليسي او حالات کنترول کړي، وګړو ته د روزګار پيدا کولو عملي پلانونه جوړ او د وخت د ضرورتونو سره سم لاری چاری ولټوي.

دا چې فساد په دولت کې ايجاد شوي دي نو دولت يې بايد له منځه يوسي، دولت کولای شي چې د فساد په منځه وړلو کې لاندني درې مرحلې په نظر کې ونيسي:

۱- د مجبوريت له منځه وړل

۲- متوسطه مرحله د زمان په پام کې نيولو سره: اوس هم ددې وخت دی چې د فساد مخنيوی وشي او دولت کولای شي چې هغه کسان چې په فساد کې ککړ دي محاکمه کړي او رسنۍ هم په دې اړوند ستر رول لوبولای شي.

۳- د اوږدې مودې مرحله: دولت بايد د هېواد اقتصاد قوي کړي، د زراعت، معادنو، فابريکو او نورو په وسيله (په دې کې خلک ډېره ونډه لرلای شي) تر څو خلک له بېکارۍ څخه خلاص او په کارونو وګومارل شي او خپل وطن آباد او سمسور کړي.

ربنا وفقنا لما فيه خير هذه الامة

ولسي جرگه ۱۶ وزیران استیضاح ...

"د دلوې د میاشتې په نهه ویشتمه نیټه به د مالیې وزیر ډاکټر عمر زاخیلوال او د کورنیو چارو وزیر بسم الله محمدي استیضاح شي.
د استجواب مساله د پراختیایي بودجې د کم لګولو په اړه ده، چې باید وزیران او سرپرست وزیران یې په اړه ځواب ووايي، د حوت تر شپږمې نیټې اجنډا همدا ده اوباید چې وکیل صاحبان حاضر وي."
د ولسي جرگې غړي وايي، چې د کلیو د پراختیا، حج او اوقافو، سرحدونو او قبایلو، اطلاعاتو او فرهنګ، د مخدرو موادو پرضد د مبارزې، د بهرنیو چارو، اقتصاد، سوداګرۍ اوصنايعو، عدلیې، کډوالو او کرنې اومالدارۍ وزیران او دغه راز د لوړو زده کړو، اوبو او انرژۍ او د ټرانسپورټ اوهوایي چلند سرپرست وزیران په ۱۳۸۹ لمریز کال کې له څلویښتو فیصدو څخه کمه پراختیایي بودجه لګولې ده.
د دوی په خبره د کابینې له دې غړو سره باید د خلکو له غوښتنو سره سم محاسبه وشي، چې ولې نه دي توانیدلي پراختیایي بودجه ولګوي او د خلکو ستونزې هوارې کړي.
د ولسي جرگې غړی نادرخان کټوازی هم ورته نظر لري او وایي، که چیرې دا وزیران او سرپرست وزیران ونه توانیږي د دوی قناعت ترلاسه کړي نو ورسره به قانوني اقدام وشي؛ چې هغه استیضاح او د عدم اعتماد رایه ورکول دي:
"که چېرته دوی ولسي جرگې ته قناعت بخښونکی ځواب ورکړي، دوی له استیضاح خلاص دي، که چېرته وکیلان قناعت بخښونکی ځواب ورنه شي کړای، دوی به استیضاح کیږي.
ګمان نه کوم چې ټول وزیران قناعت بخښونکی ځوابونه وویل شي، دوی باید استیضاح شي."
د ولسي جرگې غړو په داسې مهال دوه تنه وزیران استیضاح کوي او څوارلس نور وزیران او سرپرست وزیران استجواب کوي، چې لاهم اوه وزارتونه د سرپرستانو له خوا پرمخ وړل کیږي.
ولسمشر کرزي څه موده مخکې ژمنه وکړه، چې د ولسي جرگې د اداري پړاوي له بشپړیدو سره سم به سرپرست وزیران ولسي جرگې ته د باور رایې د ترلاسه کولو لپاره معرفي کړي، خو د دوی له معرفي کولو وړاندې د ولسي جرگې غړو دې ته لومړیتوب ورکړ، چې باید د کابینې له یوشمېر وزیرانو سره، چې بې پروایي یې کړې د دوی په خبره د تیر کال حسابونه تصفیه کړي.

مذاکرات میان حکومت...

افغان، امریکا و پاکستان را مفید خوانده علاوه کرد، که در این مذاکرات ،روی روابط نیروهای پاکستانی و آیساف در دو طرف مرز صحبت به عمل آمد.
گفتنی است که این نشست ها، بعد از قتل ۲۴ سرباز پاکستانی در مومند اجنسی توسط آیساف متوقف گردیده بود.
نامبرده علاوه نمود: "ما میخواهیم این را یقینی بسازیم که در آینده واقعه مشابه حمله بر پوسته سلاله در مومند اجنسی تکرار نخواهد شد. برای این کار، بایدروابط میان نیروهای پاکستانی و آیساف تقویت گردد."
به گفتهٔ کمیرون منتر، حکومت آنها در مورد تخطی از تخطی حقوق بشر در ایالت بلوچستان پاکستان نگران است.

سه و نیم ملیارد افغانی از گمرک ...

و ۱۳۹۰ گم است در حال حاضر هیات های ما آنجا را بررسی می نمایند آنها بررسی را از حیرتان تمام کردند حالی با گمرک کابل آنرا مقایسه می نمایند."
به گفته آقای لودین، احتمال می رود بعضی اموال به نام نیروهای بین المللی بدون پرداخت محصول از گمرک حیرتان گذشته باشد.
آقای لودین همچنان گفت، تحقیقات در گمرکات سپین بولدک و هرات نیز جریان دارد.
در همین حال قاضی نجیب الله رییس گمرک حیرتان در صحبت با رادیو آزادی موجودیت اختلاس را در گمرک حیرتان رد نموده گفت:
"من به نظر لودین صاحب احترام دارم، بعضی شرکت های تیل مافیایی که به امر رییس جمهور از دادن محصول معاف هستند شاید هدف هیات های اداره مبارزه علیه فساد اداری که آنرا بررسی می نمایند، همین موضوع باشد شاید همین شرکت ها باشند. خوب است هیات های که آمدند بررسی نمایند تا موضوع روشن گردد اما من فکر نمی کنم این موضوع صحت داشته باشد."
در همین حال وزارت مالیه افغانستان نیز بار ها موجودیت فساد اداری را در گمرکات کشور تایید نموده می گوید، بخاطر اصلاح این موضوع تلاش های صورت گرفته و هم چنان اقدامات جدی در این زمینه جریان دارد.
عواید داخلی افغانستان عمدتاً از طریق گمرکات این کشور تامین می شود. اما به باور برخی از کارشناسان، موجودیت اختلاس و فساد در برخی از گمرکات افغانستان می تواند سبب کاهش عواید داخلی افغانستان شود.

طالبانو د ملا عبیدالله مړینه ...

مرستیال په یوه پاکستانی بندیخانه کې په حق رسېدلی دی."
سرچینې زیاته کړې، چې ملا عبیدالله اخوند د ۲۰۰۷ زېږدیز کال د جنورۍ په میاشت کې پاکستان ته د سفر پر مهال په بلوچستان ایالت کې د پاکستاني حکومت له خوا ونیول شو، خو تر ډېره وخته یې په اړه معلومات په لاس کې نه و.
طالبانو ویلي، په دې وروستیو کې د نوموړي کورنۍ خبره شوه، چې هغه د ۲۰۱۰ زېږدیز کال د مارچ د میاشتې په پنځمه نېټه د کراچۍ ښار په یوه زندان کې د زړه د ناروغۍ له امله په حق رسېدلی دی.
په خبرپاڼه کې راغلي: "کورنۍ یې د هغه د مړینې په اړه کره شواهد ترلاسه کړي، خو دا لا نه ده معلومه، چې مولوي عبیدالله د ناروغۍ له امله مړ شوی او که د بند پر مهال د شکنجو او ظلمونو له امله."
طالبانو په خپله خبرپاڼه کې د نوموړي پر مړینه خواشیني څرګنده کړې، د هغه کورنۍ، طالبانو او ټول اسلامي امت ته یې د غمرازۍ مراتب وړاندې کړي دي.
طالبانو له پاکستاني چارواکو په جدي توګه غوښتنه کړې، چې د مولوي عبیدالله اخوند د د زنداني کېدو، ناروغۍ او مړینې په اړه پلټنې او دوی ته بشپړ معلومات ورکړي.
دغه راز په یاده خبرپاڼه کې طالبانو د سره صلیب پر نړیوالې ټولنې هم نیوکه کړې، چې تر اوسه پورې یې په پاکستان کې د دوی د بندیانو په اړه هیڅ معلومات نه دي ورسره شریک کړي.

مردم ولایات کنر و کاپیسا از ...

نیروهای ناتو اخیراً در ولسوالی څوکی ولایت کنر مجموعاً هفت تن کشته شده اند و از یک خانواده یک زن با فرزند و سه برادرزاده اش به شهادت رسیده اند.
مولوی شهزاده شاهد گفت که مردم ولسوالی څوکی خاطر نشان کردند که "حوصله شان به سر رسیده و باید عملیات های شبانه نیرو های ناتو کاملاً متوقف گردد."
سپس هیات اعزامی به ولایت کاپیسا به ریاست الحاج محمد ظاهر صافی مشاور رئیس جمهور که در ترکیب آن شماری از اعضای ولسی جرگه و مشران جرگه و نماینده گان وزارت های دفاع ملی، داخله، امنیت ملی، اداره ارگان های محل و اداره امور و دارالانشای شورای وزیران شامل بودند، گزارش شانرا در رابطه به تلفات افراد ملکی در حادثه بمباردمان نیروهای ناتو به تاریخ ۱۹ دلو سال روان در قریه گیاوه بالای ولسوالی نجراب ولایت کاپیسا، به جلسه شورای امنیت ملی ارایه نمودند.
الحاج محمد ظاهر صافی ضمن تایید شهادت هشت کودک در این حادثه گفت که هیات با والی، قوماندان امنیه، رئیس شورای ولایتی و رئیس شورای علما دیدار کرد و آنها خاطر نشان کردند که بدون مشوره شان این عملیات صورت گرفته است.
وی افزود که نیروهای ناتو مستقر در کاپیسا قبل از عملیات به رئیس امنیت کاپیسا گفته بودند که می خواهند عملیاتی را در شمال تپه احمد بیگ منطقه گیاوه انجام دهند، اما رئیس امنیت کاپیسا مخالفت کرده برای شان گفته بود که در این منطقه دشمن وجود ندارد.
به روز سه شنبه در قریه گیاوه در حالیکه اطفال بخاطر گرم کردن شان آتش افروخته بودند، مورد اثابت دو فیر طیاره نیرو های ناتو قرار گرفتند که در نتیجه هشت کودک در همان منطقه به شهادت رسیدند.
رئیس هیات اعزامی تصاویر کودکان شهید را به رئیس جمهور نشان داد و خاطر نشان کرد که با خانواده های شهدای قریه گیاوه دیدار نموده، ضمن فاتحه خوانی و دلجویی از آنها، پیام تسلیت و همدری رئیس جمهور را به آنها رسانده است.
وی گفت که مردم محل از هیات خواستند تا پیام شانرا به رئیس جمهور برساند که تا چه زمانی مردم ما توسط نیرو های ناتو کشته می شوند و همچنان آنان خواستار توقف عملیات های ناتو گردیدند که باعث تلفات افراد ملکی در کشور می گردد.

ایساف د ملکیانو د مرګ ژوبلې ...

وویل، چې په دې غونډه کې به تر ډېره په هغو لاملونو هم بحث وشي، چې له امله یې عامه خلکو ته مرګ ژوبله اوړي.
"په دې کنفرانس کې به د افغان حکومت استازي، والیان، ښاروالان، د ملګرو ملتونو او د سره صلیب د نړیوالې کمیټې، د نړیوالو ادارو او ایساف استازي د عامه خلکو د مرګ ژوبلې په لاملونو خبرې وکړي.
دوی به ددې ستونزې د هوارې په لارو چارو هم غور وکړي او دا یو له هغو ګامونو څخه دی، چې ایساف قومنداني یې په افغانستان کې د عامه خلکو د مرګ ژوبلې د مخنیوي لپاره کوي."
د ایساف ویاند دا هم وویل، چې په دې غونډه کې به په افغانستان کې د عامه خلکو د مرګ ژوبلې په اړه د یونامه په رپورټ هم بحث وشي.
په افغانستان کې د ایساف مشرانو دا کنفرانس په داسې حال کې رابللی، چې اوس اوس د دوی په هوایي عملیاتو کې، چې په کاپیسا او کونړ ولایتونو کې شوي، د یو شمیر عامه خلکو د وژنې راپوروونه ورکړل شوي.
جنرال جکوبسن وویل، دوی چمتو دي، چې د عامه خلکو د مرګ ژوبلې د مخنیوي لپاره هر ډول وړاندیز او غوښتنه ومني او د هغې له مخې چلند وکړي.
خو په افغانستان کې د امنیتي چارو کتونکې جنرال امراله امان بیا د دې کنفرانس پایلو ته د شک په ستر ګه ګوري.
ده ازادی راډیو ته وویل، چې د افغان او بهرنیو ځواکونو ترمنځ همغږي د عامه خلکو د مرګ ژوبلې د مخنیوي لپاره ضروري بولي.
"دغسې کنفرانسونه چې جوړیږي، دا ډک له فساده دي، دا هغه انجوګان دي، چې دلته مالي فسادونه لري او غواړي، یوه اندازه پیسې لاس ته راوړي.
دغه په امنیتي اسرارو کې راځي، دوی کولای شي، چې له نړیوالې ټولنې سره خصوصاً ناټو له افغان امنیتي سکتورونو سره یوځای، یو مشخص عملیاتي، تصفیوي او امنیتي پلان جوړ کړي."
د ملګرو ملتونو د یو رپورټ له مخې که څه هم په افغانستان کې د عامه خلکو د مرګ ژوبلې اوه اویا سلنه وسله والو مخالفینو ته راجع شوې، خو د پاتې څوارلسو فیصدو لپاره افغان او بهرني ځواکونو ته ګرم بلل شوي.
ددې رپورټ له مخې په تیر ۲۰۱۱ میلادي کال کې په افغانستان کې ټول درې زره یو ویشت ملکي وګړي وژل شوي.
په رپورټ کې له ټولو ښکیلو اړخونو غوښتل شوي، چې د پوځي عملیاتو په مهال د عامه خلکو د مرګ ژوبلې د مخنیوي لپاره لازم ګامونه پورته کړي.

افغانستان د نړۍ په رسنیو کې

قراردادیانو ته د افغانستان د جګړې سپارل او خطرونه

نیویارک ټایمز:
نیویارک ټایمز امریکایي ورځپاڼې یو مقاله لیکلې، چې سرلیک یې دی وپه افغانستان کې له سرتیرو څخه قراردادیانو ته د جګړې د انتقال خطرونه»
ورځپاڼه لیکي دا یو داسې جګړه ده، چې په کې دودیزې پوځي دندې لکه پوځیانو ته اشپزي د پوځي اډو ساتنه او د پوځي کتارونو چلول په چټکۍ سره له پوځیانو څخه خصوصي سکتور ته انتقالیږي.
ډیر امریکایي جنرالان او پوځیان د خپلو ساتونکیو په برخه کې له خصوصي امنیتي کمپنیو سره قراردادونه لري.
خو نیویارک ټایمز وایي، له دې سره خطرونه هم مل دي، د ورځپاڼې په وینا تیر کال په افغانستان کې تر امریکایي پوځیانو زیات هغه ملکي قراردادیان وژل شوي دي، چې د امریکایي کمپنیو لپاره کار کوي.
د ورځپاڼې په وینا په افغانستان کې امریکایي اداري اړې نه دي، چې د خپلو کارکونکي د وژل کیدو راپور په عامه توګه ورکړي او ډیر کله دا کار نه کوي.
خو پوځ د ټولو هغو سرتیرو نومونه چې وژل کیږي اعلانوي. خو خصوصي کمپنۍ یوازې د خپلو وژل شویو کارکونکیو کورنۍ خبروي.
نیویارک ټایمز په کابل کې د امریکا د سفارت له خوا د ورکړل شویو شمیرو په حواله لیکي:
په تیر کال په افغانستان کې ۴۳۰ هغه کارکونکي وژل شوي، چې د امریکایي ادارو له قراردادي کمپنیو سره یې کار کاوه، په دې کې ۳۸۶ تنو د امریکا د دفاع وزارت سره د قراردادیانو په توګه کار کاوه.
درې حلویښتو کسانو یې د امریکا د نړیوالې پراختیایي ادارې یا یو. ایس. ایډ سره کار کاوه او یوتن یې د امریکا د بهرنیو چارو د وزارت قراردادي و.
د ورځپاڼې په وینا دا شمېر تیرکال په افغانستان کې د امریکایي سرتیرو له شمیره زیات دی، چې د دفاع وزارت ۴۱۸ سرتیري ښودلي، چې د دوی په وینا تیر کال په افغانستان کې وژل شوي دي.
واشینګټن پوسټ:
بلې امریکایي ورځپاڼې واشینګټن پوسټ بیا په یو راپور کې په افغانستان کې د سیمه ییزو پولیسو روزنه ګران کار بللی دی.
ورځپاڼې د ګرشک په ولسوالۍ کې د محلي پولیسو د روزنې د یو مرکز تصویر ورکړی، چېرې چې بریتانوي روزونکي یو شمېر افغان ځوانان د دې لپاره روزي چې د طالبانو په وړاندې له خپلو سیمو دفاع وکړي.
خو د ورځپاڼې په وینا د دې غوسه ناکو او نالوستو افغان ځوانانو روزنه، او له طالبانو سره جګړې ته د هغوی چمتو کونه اسانه کار نه دی.
ورځپاڼه زیاتوي، هغه افغانان چې په دې مرکز کې روزل کېږي، پر یو بل باور نه لري او دا هم وايي، چې کافي پیسې نه ورکول کېږي او سم مجهز هم نه دي.
ورځپاڼه د میر حمزه په نوم د یو افغان له خولې وايي : دوی له موږ تمه لري، چې په یوې کلاشنکوف ورته یوه پوسته وساتو.
ورځپاڼه وايي، میر حمزه چې یو زوړ او سولیدلی کلاشنکوف ورسره په لاس کې و ویل، یې په دې کلي کې ان شپانه هم کلاشنکوف لري.
دا واشینګټن پوسټ ورځپاڼه وايي، تر اوسه د افغانستان په کلیوالي سیمو کې اته زره کسان د سیمه ییزو پولیسو په لیکو کې ځای شوي او ټاکل شوې ده، چې شمېر یې دېرش زره کسانو ته ورسیږي.

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولی یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ
اونیزه شهادت
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي خانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل (محمد خلیل)

د اړیکو شمېرې
دفتر: ۰۲۰۲۵۶۱۲۳۲
مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر: ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
• رالیږل شوي مطالب نه مستردیږي - یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی

دیزاین: خواجه وحیدالله | آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه، کابل - افغانستان | Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com